# خان محمد افضل خان (خان لالا)

فیروز خان صادق



الـمعروف د ارمی خان کره زیږېدلے ؤ او خپـل ټـول عمر او صلاحیتونه ئې د پښتـون قـام د یـو والـي او پـرمختـګ دپاره وقف کړي وو او په دې لړ کښې ئې مـختـلف قسـم تـکـلیفونه او ازمېښتونه هم ګاللي وو ان تـر دې چې یوه اوږده موده ئې د تورو تمبو شاته په زندان کښې هم تېره کړې ده او د دۀ پـه خـدماتو او هـلـو ځلو په دلو دلو کتابونه لیکلے شي خـو د پېـل پـه توګـه نوموړي لیـکـوال او د افـضـل خـان لالا ډېـر قـدرمن او عقیدتمند محترم هارون الـرشیـد خټک وړومبے قدم پورته کړو او د خان لالا په ژوند او هلو ځلو ئې یو ضخیم کتاب د ,,خان محمد افـضـل خـان (خـان لالا) د پښتـون قامي وحدت عـلـمبـردار،، پـه نوم ترتیب او تدوین کړو چې په نـومبر ۲۰۱۲ء کښې (یـعـنې د خان لالا د مرګ د وړومبـي کال په پوره کېدو چې مرحوم په وړومبي نـومبـر ۲۰۱۵ء وفـات شـوے ؤ) ئې پـه اعـراف اروابښـاد افـضـل خـان لالا د پښتون قامي وحدت علمبردار او نومیالے دانشور،مفکر،مبارز، قـومـي لاربښـود او د نـورو ګـڼـو خوبیو او ځانګړو صفاتو څښتـن ؤ چې په کال ۱۹۲۲ء کښې د سوات پـه تـاریـخـي کـلـي درشخیله کښې د حبیب خان

پـرنټـرز پېښور کښې د مرکزي اجمل خټک ادبي ثـقـــافتـــي جـرګـــه خېـر آبــاد ضـلـع نـوښــار خیبرپښتونخوا په اهتمام چاپ کړو.

کتاب سور رنګ سرپاڼه لري چې د افضل خـان لالا تـصوير پرې نقش دے. جلد ئې مضبوط کاغذ ئې درميانه او مخونه ئې ۷۲۲ دي. ټرون ئې د خـــان لالا د کـورنۍ او د تـرهګـرۍ ضد جنګ د شهيدانو په سپېڅلو نومونو شوے دے. تفصيلي سـريزه پرې ښاغلي ابراهيم شبنم يوسفزي ليکلې ده چې نۀ صـرف د کتاب اهميت ئې په ګوته کړے دے بـلـکې د مرتب د فن جاج ئې هم وړاندې کړے دے او د خـان لالا د کورنۍ او تاريخي حيثيت ئې هم په ګوته کړے دے څکه چې موصوف د خان لالا مرحوم ورارۀ دے او هم په دغه اساس ئې د خان لالا د ژوند ډېر پټ اړخونه هم رابرڅېره کړې دي.

د دې سـريزې د لوستو نه پس لوستونکو ته د کتاب متعلق ټول معلومات مخې ته راشي او بيـا د نورو اړخونو د معلوماتو دپاره ور ته د کتاب لـوسـتـل اسـان شـي. په کتاب دويم ليک ښاغلي ذاکـرخــان خټک کړے دے چې د ښـاغلي هـارون الرشيد خټک د ادبي علمي،فلاحي او نورو کارونو تـر څـنګ ئې د دۀ تـصـنيـفـات او تاليفات هم په تـفصيل سره ياد کړې دي. د چاپ شوو اثارو شمار ئې د شلو نه زيات دے او د دې نه ئې زيات ناچاپ اثـار د مسـودې پـه شـکل کښې خوندي دي په دې

ليک کښې د هـارون الـرشـيـد خټک د کار او زيار متـعـلـق تـفـصيلات د ډېر اهميت وړ دي. دا هم د يـــادونې وړ ده چې هـــارون الرشيد خټک د خپلې مـورنۍ ژبې پښتــو سـره په قومي ژبه اردو کښې هـم ليـکـل کـوي او يو شمېر کتابونه ئې هم چاپ شوې دي هم دغسې د مسودې په صورت کښې هم د اردو څو کتابونه چاپ ته تيار دي.

د دې نـه عـلاوه په مختلفو پښتو او اردو مـطبـوعــاتو کښې د دۀ علمي ليکونه هم وخت په وخـت خپـرېږي چې د عـلم او دانش اندازه ئې ترې لګېـدے شي. د دې نه وړاندې ئې هم په خپلو قوم پـرسـتــو مشـرانو کتابونه او مقالې لېکلي دي. په تېـره د فـخر افغان باچاخان بابا،رهبر تحريک خان عبـدالـولـي خان،شاعر انقلاب اجمل خټک بابا او داسې نـورو اتـلانـو بـانـدې ئې تـاريخي کتابونه ليکلي دي چې خاص و عام خوښ کړې دي.

پـــه کتـــاب کښې د هـارون الرشيد خټک خپـلې خبـــرې دا راز افشـــا کـوي چې موصوف دا کتــاب د افـضـل خان لالا په ژوند کښې چاپ کول غـــوښتـــل او خـان لالا اجـازت هـم ورکړے ؤ او د مرستې ملاتړ باور هم خو ولې بيا هم کتاب د خان لالا پـه ژوند کښې چاپ نۀ شو. د هغوي د مرګ نه پـس چـاپ شـو. بيا هم د هارون الرشيد خټک دې کور ودان وي چې د خپل لوظ پوره کولو ګران کار ئې سرته ورسولو او د خان لالا روح ته ئې تسکين

ورسولو. د کتاب په شا پاڼه د پروفیسر ډاکټر فضل الرحیم مروت ارزښتناک لیک د کتاب اهمیت نور هم سپوا کړے دے. ښاغلي هارون الرشید خټک دا کتاب په نهو برخو ویشلے دے. او په هره برخه کښې ئې جدا جدا موضوعات او تخلیقات شامل کړې دي چې لنډ تفصیل ئې په دې ډول دے.

وړومبۍ برخه: په دې کښې سریزې خپلې خبرې د خان لالا دوه خطونه یو څو خاطرې د سوات نومونو ته یوه کتنه او د سوات لرغونے تاریخ او موجوده صورت حال.

دویمه برخه: کښې د افضل خان لالا مرحوم کورنۍ شجره نسب،د خان لالا سیاسي او قامي مبارزه، د طالبانو سره مقاومت او مقابله، د لیکوال په حیث د دهٔ چاپ شوي کتابونه او افکار.

دریمه برخه: کښې د خان لالا لیکل شوي مضمونونه چې د پښتو سره پکښې د اردو مضمونونه هم شامل دي.

څلورمه برخه: کښې د خان لالا څو مهم تقریرونه او وېناګانې.

پینځمه برخه: کښې ئې د خان لالا ناروغي او وفات او بیا د دې لوئې غم په حقله د رسنیو ځانګړې اعلانونه او خپرونې او د مختلفو لیکوالو له اړخه لیکل شوي تاثرات او د سیاسي مشرانو نظرونه.

شپږمه برخه: کښې د مختلفو لیکوالو او کالم نګارانو له اړخه د خان لالا په ژوند او خدماتو لیکل شوي مضمونونه او کالمونه چې په مختلفو اخبارونو او مجلو کښې چاپ شوې دي.

اومه برخه: کښې د خان لالا په مرګ د مختلفو پوهانو،حکومتي مشرانو، د افغان اولسمشر د سیاسي ګوندونو د مشرانو لیکوالانو او شاعرانو تاثرات.

اتمه برخه: کښې د خان لالا په مرګ د بېلابېلو شاعرانو له اړخه منظوم عقیدت.

نهمه برخه: کښې د انګریزۍ لیکونه چې د خان لالا متعلق په بېلابېلو انګلیسي اخبارونو او مجلو کښې چاپ شوي وو دغسې په دې کتاب کښې د اروابښاد افضل خان لالا د ژوند او کار په حقله ډېر مستند او کوټلي معلومات موجود دي کوم چې د ښاغلي هارون الرشید خټک د خلوص مینې عقیدت او د خان لالا سره د بې کچه محبت عملي نمونه ده. او بیا د دهٔ د ذهني او تخلیقي صلاحیتونو ښکارندويې ده چې دهٔ په ډېر احتیاط او ترتیب سره د هرې موضوع متعلق مواد او معلومات راجمع کړې دي او بیا ئې د کتاب پاڼو ته سپارلي دي دا هم د هارون الرشید غوندې په قام او قامي مشرانو د مئین لیکوال د وس کار دے.

داسې معلومېږي لکه چې هارون الرشید

خټک خپل ټول عمر او صلاحیتونه هم د دې مقصد دپاره وقف کړې وي او د خپل کار او مرام د ترلاسه کولو دپاره هغه هر قسم قرباني ورکوي دا هم د خوشحالۍ خبره ده چې په پښتون قام کښې د هارون الرشید خټک غوندې باشعور لیکوال موجود دے کوم چې نۀ صرف د خپل ادب او کلتور حفاظت کوي بلکې د خپلې ژبې او خپلو قامي مشرانو د ژوندي ساتلو دپاره هم په زړۀ پورې کار کوي.

د ښاغلي هارون الرشید خټک تالیف کړے شوے دا کتاب به د پښتون اولس دپاره یو اهم او تاریخي دستاویز ثابت شي ځکه چې په دې کتاب کښې صرف د خان لالا ذاتي ژوند او کارنامې نۀ دي محفوظ کړے شوي بلکې مرحوم چې د خپل قام،خپلې خاورې او خپل ملک بلکې د ټول انسانیت د خېر ښېګړې دپاره کومه مبارزه کړې او د قام د یو والي او د ترهګرۍ د مخنیوي دپاره ئې چې څومره قرباني کړې ده د هغو ټولو هلو ځلو تفصیلي نقشه پکښې وړاندې کړے شوې ده. دا به نۀ صرف د موجوده دور د ځوانانو او عامو خاصو پښتنو دپاره معلومات او تفصیلات لاس ته راوړي بلکې د راتلونکي دور د وګړو دپاره به هم د لارې مشال وګرځي.

ښاغلي هارون الرشید خټک یو داسې روایت قائم کړو چې په پښتو کښې ئې مثال ډېر کم دے ځکه چې تراوسه پورې په هیڅ یو پښتون مشر داسې هر اړخیز جامع او مکمل کتاب نۀ دے چاپ شوے کوم چې نۀ صرف د خپل دور ټولې غوښتنې پوره کوي بلکې د راتلونکي دور دپاره هم ډېر مفید او کار آمد ثابتېدے شي. د دې اهم قدم سره به په نورو زلمو او په تېره د تاریخ او اتلانو سره تعلق لرونکي لیکوال د دې جوګه شي چې د خپلو اتلانو په ژوند او کار اډانه داسې لوئې لوئې کتابونه چاپ کړي دا هم د پښتو ژبې د نیک بختۍ خبره ده چې پښتو کتاب مارکیټ نۀ لري ولې لیکوال ئې بیا هم کتابونه لیکي او چاپ کوي او زما باور دے چې یوه ورځ به داسې راشي چې د پښتو کتاب مارکیټ به هم پېدا شي ځکه چې پښتانۀ لیکوال په ډېره مینه او اخلاص د وخت د غوښتنو سره سم کتابونه لیکي او چاپ کوي.

د ښاغلي هارون الرشید خټک د دې کتاب اهمیت په دې هم زیات دے چې دۀ په ناسته کار نۀ دے کړے بلکې د خپل مقصد دپاره ئې د خان لالا د کلي او علاقې دورې کړې دي. د هغوي د خپلو خپلوانو سره ئې رابطې هم کړې او د هغوي د تخلیقاتو مطالعه ئې هم کړې ده. د هغوي متعلق چاپ شوي مطالب او مضامین مقالې او نور لیکونه ئې هم د نظر نه تېر کړې دي. د شاعرانو کلامونه ئې هم راغونډ کړې دي او د خپل وس

مطابق ئې د افضل خان لالا متعلق ټول معلومات په ډېر تفصیل سره په دې کښې شامل کړې دي.

په دې کتاب کښې د خان لالا د زېږون نه تر مرګ پورې د هغوي د ژوند یوه یوه ورځ او هر ګام په نظر کښې نیولے شوے دے. د دوي د خاندان تاریخي پس منظر د سیاسي مبارزې علت او پیل او په دې دوران کښې کامیابۍ او ناکامۍ هم په دې کتاب کښې په تفصیل سره ذکر شوې دي او په خصوصي توګه کله چې په سوات کښې حالات کړکېچن شو او د ترهګرۍ زور زیات شو بلکې د ترهګرو په لاس یو شمېر اولسي وګړي ووژل شول نو په داسې صورت حال کښې د سوات خاص و عام په تېره بیا سیاسي مشران د سوات نه نورو سیمو ته وکوچېدل خو خان لالا په دغه سخت ازمېښت کښې هم لکه د غر کلک ولاړ ؤ او د هر قسم حالاتو مقابله ئې په ډېر شجاعت او جرات سره وکړه ان تر دې چې د دۀ په حجره او کور څو وارې بریدونه وشو. دۀ ته د طالبانو له اړخه سخت اخطارونه ورکړے شو خو دۀ د خپل سر پرواه ونۀ کړه او د خپل اولس سره په دغه سخت وخت کښې هم یو ځائې پاتې شو. په دۀ قاتلانه حملې وشوې او د خپل خاندان یو شمېر اهم مشران ئې د لاسه ورکړل خو د دې ټولو تاوانونو او خطرو باوجود خان لالا کله هم خپله اراده بدله نۀ کړه.

کۀ څه هم خپلوانو او دوستانو ور ته د تګ مشورې ورکولې حکومت هم غوښتل چې خان لالا د سوات څخه محفوظ ځائې ته لاړ شي خو خان لالا په کلک عزم سره په سوات کښې پاتې شو چې هم له دې قربانۍ ئې زیات شهرت ترلاسه کړو او د پاکستان حکومت ور ته د ,,هلال شجاعت،، تمغه عنایت کړه. هم دغسې په ملکي او بین الاقوامي کچ د دۀ د جرات ستاینه وشوه او د نړۍ لویو لویو پوهانو،حکمرانانو او د ژوند د هرې تپې سره تعلق لرونکو کسانو ور ته خراج تحسین وړاندې کړو او دغسې ئې د نورو سیاسي مشرانو او عام وګړو دپاره یو مثال قائم کړو چې د هر قسم حالاتو د مقابلې توان ځان کښې پېدا کړي او د تېښتې په ځائې د دښمن مقاومت وکړي. د باطل لاره ونیسي او د حق دپاره قرباني ورکړے شي نو هر کله چې د دومره پوخ عزم او مضبوط زړۀ مالک وي الله پاک ور ته بې شمېره ذهني، علمي،تنظیمي،تخلیقي او نور ډېر صلاحیتونه ورکړي وي نو د داسې شخصیت ستاینه به څوک څنګه نۀ کوي او د هارون الرشید خټک غوندې زیرک او متحرک لیکوال به پرې کتابونه ولې نۀ لیکي؟

حق خبره دا ده چې دا د دغو شخصیتونو حق هم دے او زمونږ د لیکوالو ذمه واري هم ده چې د خپلو اتلانو په کارنامو کتابونه ولیکو او خپل راتلونکي نسلونه ترې خبر کړو چې د دې

سره بـه مـونږ په دغو راتلونکو نسلونو کښې هم جـرات او عـــزم پيـدا شي او د دې سره بـه زمونږ تـاريخ نور هم د دليرۍ او بهادرۍ په بابله روښانه شـي. د ښـاغـلـي هـارون الرشيد خټک په ترتيب کړے شـوي دې کتاب ,,خـان افـضـل خـان (خان لالا) د پښتون قامي وحدت علمبردار،، کښې هره يوه برخه بلکې هره پاڼه د خصوصي ستاينې وړ ده چې دۀ په هر اړخ قلم پورته کړے دے نو د موضوع تـل تـه ئې ځـان رسـولـے دے او د پوره تحقيق او تـصـديـق نـه پس ئې د قلم په ژبه د کتاب پاڼې ته سپـارلې ده او هـم دا د يـو ليـکـوال او څېړنکـار بـنيـادي کـار دے چې هـغـه تـل د صداقت نه کار واخـلي او د سند او د دليل په تله خپله هره فنياره وتلي.

د دې نه وړاندې هم ښاغلي هارون الرشيد خټک څـومره کتابونه چاپ کړې دي په هغو کښې ئې دغـه مـعيـار قـائم ساتلے دے او اوس هم چې د افـضـل خـان لالا غـونـدې پـه لوئې شخصيت دۀ کتاب ليکلو نو د خپلو دغو ځانګړو وصولو خيال ئې ساتلے دے او هم دا د دۀ د کاميابۍ او پرمختګ راز دے. د خـان لالا متـعلق کتاب په پښتو نثري پـنګـه کښې يـو غوره او ګټور زياتوالے دے چې د ادب او تاريخ مينه وال به ئې تل د خپلې استفادې او فيض ذريعه جوړوي بلکې هر خاص و عام ته به ئې د لوستو بلنه ورکوي.

☆☆☆

## محمد اسلام ارماني ته صدمه

د نـامتـو شـاعـر او ليکوال محمد اسلام ارمـاني کورودانه په حق رسېدلې ده. انا الله وانا اليه راجعون.

اروابښـــاده د خپـل کـلـي الـه ډنډ ډيـرۍ مـلاکـنډ ايجنسۍ خانداني اديره کښې خاورو ته وسپـــارلے شوه. د ,,پښتـــون،، اداره د مـحتــرم مـحـمـد اسـلام ارماني او د دۀ کورنۍ سره په دې غـټ غـم کښې بـرابـر شـريکه ده او دعا کوي چې الـلـه تـعـالـی دې مـرحـوهم وبخښي او غمژنې کــورنۍ تـــه دې د جـمـيـل صبـــر تــوفـيـق ورکړي. آمين.

## غمرازي

د مـحتـرم سـليم راز رور په ټپرو ورځو کښې په حق ورسېدو انا لله وانا اليه راجعون.

,,پښتـون،، اداره پـه دغـه غـم کښې د محترم سليم راز صاحب سره برابر شريکه ده. او لاس پـه دعـا يـو چې خدائے پاک دې مرحوم ته په جـنـت الـفـردوس کښې مـقـام ورکړي او غمژنې کـورنۍ تـه دې د زړۀ صبـر ورکړي. آمين ثمـه آمين.

(اداره)